آمریت عمومی نظارت بانکی
دبانکي څارنې لوی آمریت

د افغانستان بانک

شماره: RSR ۱۳۲۴۹ ۱۳۷۲۱
تاریخ: ۱۴۴۷۱۰ ۱۴۴۴/۱۰/۱۴

---

ټولو درنو مجوزو بانکونو ته !

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته و بعد:

موضوع: حجاجو ته د هغوی د حج د لګښتونو د تادیه کولو لپاره د هغوی د بانکي حسابونه نه پیسې ورکول

ماهیت: متحدالمال

له درناوي وروسته،

ددې اداري د ۳۰۲۲ ګڼې ۱۴۰۱/۰۳/۱۴ نېټې متحدالمال په تعقیب سره ټولو بانکونو ته لیکل کیږي؛

هغه حجاج چې د حج مراسمو کې د ګډون لپاره یې مخکې نوم لیکنه کړې وي او د فی کس لګښت د حج او اوقافو قدرمن وزارت لخوا تاکل شوی وي. کوم حجاج چې غواړي د خپل بانکي حسابونو څخه د حج لګښت د یاد قدرمن وزارت حساب ته تادیه کړي، بانکونه کولای شي چې یاد مبلغ ورته په نقده توګه تادیه کړي پدې شرط چې تعرفه د حاجي په خپل نوم وي همدارنګه بانکي حساب هم د هغه په خپل نوم وي نو د تعرفې مطابق لیکل شوی مبلغ په یو ځل د بانکونو لخوا ورته د تادیې وړ دی. همدارنګه کومو بانکونو کې چې د حج او اوقافو قدرمن وزارت بانکي حساب شتون لري په یادو بانکونو کې د حاجي د خپل بانکي حساب څخه د تعرفې مطابق مبلغ د یاد وزارت بانکي حساب ته د انتقال وړ دی.

پورته موضوع تاسو ته ابلاغ شوه ترڅو په خپل وار سره سم اړینې کړنې ترسره کړی.

نور احمد آغا
دافغانستان بانک لومړی مرستیال او سرپرست

ټیلیفون: 2102206/ فکس: 0093(20)2100305/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایت www.dab.gov.af